آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۱/۱۱

# مينه او کرکه

مينه کرکه سره يو ځای

زموږ کور ته نن راغلي

نه په ميني سم پوهيږو

نه مو کرکه پيژندلي

پښتانه يو

ميلمه پال يو

موږ به څنګه

د ميلمو

د دښمنو

قدر يو ځای سره وکړو

يو يې اور

بل يې اوبه دي

اوسيدل يې يو ځای نه شي

پښتانه يو

ميلمه پال يو

اسامه مو وو ساتلی

ځان مو ښه و تباه کړی

اوس به څه کړو

اوس به څه کړو

مينه کرکه مو يو ځای زړه ته راغلي

بيلولی يې هم نه شو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

غورځولی یې هم نه شو

نه په مینې سم پوهېږو

نه مو کرکه پیژندلې

خدایه څه کړو

خدایه څه کړو؟؟؟

۱۱/۱۰/۲۰۱۴

کییف

اوکراین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ